استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی شنبه ۱۹ اگست ۲۰۲۳

# د احمدشاه بابا دیوان

اوومه برخه




د توری درو‌ړ، د احمد شاه بابا د پښتنوالی د حماست ابتکار دی!

احمد شاه بابا ژوندون د توری تر سیوري لاندي خوښ لری، او هغه فلسفه چه "قوت ژوندون دي"

په ښه ډول مني، نو ځان ته وایي، چه د دغي فلسفي سره سم پر جهان بری ومومه:

په بریښنا د توری ژوند کوه "احمده"

د بری جولان پر لور د هر دیار که

یا دا:

که توبری ووري "احمده"

تـه جـولان کـوه د خنګ

په پښتنواله کي پټ او ننګه هغه شيان دي، چه تل ئي پښتون په سر ساتي، احمد شاه بابا د پښتنوالی پر دغه ښيګړه داسی ټينګ ولاړ دي:

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دي

لاس بـه وانـخـلم لـه ننګه

چه سر پرې کړی "احمد شاهه"

د بې ننګه ژونـد جفا ده

که په ننګ پاته دنيا ده

د هـغـو مينه رشتيا ده

احمد شاه بابا د پښتنوالی په ميرانه، او د پښتنو په همت او شجاعت له هندوستانه تر ايرانه ټوله مملکتونه ونيول، او د مردانګی داد ئي ورکړ، د دغو فتوحاتو په وخت کي خپل حماسی او رزمي افکار داسي ښکاره کوي:

چه بر کړی مي خدای لاس په رقيبانو

تـرو به زه د هنـد پر لور په تماشه ځم

چه د هند د ملکو فتحه مي روزي شوه

نور ايران لره په توغ په نغاره ځم

پـر دا کړی داد دي خدای نسي پښيمانه

تر نګين مي ايران لاندی شاهانه ځم

چه ځما د ولايت فتحه روزي شوه

تـرو به څـه د يار له نازه کنـاره ځـم

په دې ډول احمد شاه بابا پخپلو لوړو او ارتو فتوحاتو کي خپل حماسی افکار ښکاره کوي، او د پښتنو د زړه د ننګيالی توب جذبات پخپله وينا کي ښه تصوير کوي.

که مي برق د سپينی توری بيا بريښنا کړه

ستا په مهر په هر لوري عالمګير يم

دا نـظر پـر تا د يار دي احـمـد شاهه

چه په فتحو د ايران د هندوستان ځي

د خدای شکر مدام وايه "احمد شاهه"

**چه پر درست جهان دي دور نغارې دي**

اخلاقيات

نوربيا

salamwatanam@gmail.com